بسم الله الرحمن الرحيم

**کريموف مړ شوی، مګر ظلمونه يې تراوسه ادامه لري!**

**خبر**

د ۲۰۲۰ د اکتوبر په ۱۷مه ازبيک ټي وي د (حق نه پېژندوکو سرنوشت) تر سرليک لاندې يو پروګرام خپور کړ، په خبر کې يې د حزب التحرير د شبابو په اړه خبرې کړې وې، چې ۱۸ کلونه کېږي هغوی په زندان کې شپې او ورځې تېروي او د ازادېدلو په تمه دي، دوی د اسلامي خلافت د بيا تاسيس لپاره د خپل غړ پورته کولو په جرم باندې نيول شوي دي. په پروګرام کې ادعا کېدله چې له دوی سره په فېسبوک کې د عبدالمومن په نوم يو کس اړيکه نيولې وه او له دوی څخه يې د حزب او د حزب د کار او فعاليتونو په اړه معلومات اخيستي وو. زما نوم ابو خليل دی او پر ما تور پورې شوی چې ته دلته د حزب التحرير شبابو ته په دوامداره توګه مالي امکانات برابروې، دوی بيا حزب التحرير د يو تروروېست حزب په توګه مني ځکه د دوی مخکيني دولت دغه حزب افراطي بللی و.

**تبصره**

دغه پروګرام د ازبکستان د استخباراتو کار او د کريموف د وحشتناکو پاليسيو پايله ده، نوموړي د خپل حاکميت په دوران کې په کلونو کلونو د حزب التحرير ډېر شباب په ډېره بې رحمۍ او غير عادلانه ډول ووژل. اوسنی رژيم هم د دعوت د حاملينو او حزب التحرير د شبابو پر وړاندې د پخواني (کريموف) رژيم په قدمونو روان دی. دلته په ښکاره ډول ليدل کېږي، چې کله د حزب التحرير شباب د لسګونو کلونو زندان تېرولو څخه وروسته آزادېږي نو بيا هم دوی خپل عادي ژوند او کار پيلوي او د اسلامي امت په منځ کې د اسلامي ژوند بيا راژوندي کولو لپاره خپلو هڅو ته ادامه ورکوي. په دغه ډول به د ازبکستان او نړۍ مسلمانان خپل عزت بيا لاسته راوړي. مګر دولت بيا خپلو قهرجنو اعمالو او تروروېستي پاليسيو ته د دوی پر وړاندې دوام ورکوي. دوی بندي کوي، دوی ګواښي، دوی مجبوروي چې د حزب او اسلامي دعوت پر وړاندې بد او رد ووايي، په حزب او شبابو پسې تهمت ويلو ته يې اړ کوي او په دې يې متهم کوي چې تاسو دلته د حزب التحرير شبابو ته زياتې روپۍ مصرف کړې دي چې دا ټول درواغ دي او حقيقت نه لري. ما هېڅا ته هم پيسې نه دي لېږلې پرته له خپلې کورنۍ څخه چې هغه هم اوس د دغه وحشي رژيم تر ظلم لاندې ژوند کوي، دلته هم دوی زما کورته ورځي او زما پوښتنه کوي تر څو ما پيدا کړي او بندي مې کړي.

**[مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ]** (القلم:۳۶)

*ژباړه: په تاسو باندې څه کېږي، دا څنګه قضاوت دی؟*

**ای د ازبکستان حکومته!**

دا ټول درواغ او جعلي تهمتونه چې تاسو يې د دعوت پر وړاندې وايئ او د حزب التحرير د شبابو او د دعوت د حاملينو پروړاندې خندونه جوړوئ او دوی ځوروئ دا به د دعوت مخنيوی ونه شي کړای او تاسو به هېڅکله ونشئ کولای چې د ازبکستان د مسلمانانو له عقيدو څخه دغه دعوت حذف کړئ. د کريموف يعني

ستاسو د پخواني دولت مشرهم ډېرې هڅې وکړې، خو کومه مثبته پایله یې نه درلوده، ځکه دغه دعوت د الله سبحانه وتعالی او د هغه د قانون د حاکمیت لپاره روان دی او الله سبحانه وتعالی د دغه دعوت کوونکو او په دې اړه پلټونکو ساتونکی دی. د حزب التحریر حقانیت د ازبکستان خلکو ته ښکاره دی، ټول امت او نړی په دې پوهېږي چې دا یو سیاسي حزب دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه د راشده خلافت بیا تاسیس غواړي. نو که تاسي هرڅومره وغواړئ چې د دوی مخنیوی وکړئ او شباب یې وځوروئ پر وړاندې یې پورپاګند ووایئ دوی به لا قوي شي دوی خپلو خلکو ته دروا غ نه وایي او دوی به تل د اسلام بیرغ له ځان سره وړي او اسلام به په خپل ژوند کې عملي کوي. دغه رازهڅې به کوي تر څو د ظلم تخت ونړوي او له ازبکستان ان د نړی له شرق او غرب څخه دغه اوسني تروریستي دولتونه پاک کړي.

**اې په ازبکستان کې زموږ خلکو!**

تاسو د ښه، ښایسته او ارامه ژند هیلي مه لرئ، له الله سبحانه وتعالی څخه راضي شئ او هغه به له تاسو څخه راضي شي. تاسو به ترڅو د دغو ظالمو چارواکو د ظلم او فاسد سرمایه دار سیستم پروړاندې پټه خوله وئ؟ الله سبحانه وتعالی مخلصو بندګانو ته د خلافت وعده ورکړې ده او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم هم په دغه لار کې زیار ایستونکو ته زېری ورکړی دی. نو اوس ستاسو وخت دی تر څو دالله سبحانه وتعالی د وعدې او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیري د ترلاسه کولو لپاره کار وکړئ او هغه له بل هر چانه په خپله وعده کې ښه وعده پرځای کوونکی دی.

**[وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ]** (النور:۵۵)

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی هغو خلکو ته چې ایمان یې راوړی او نېک کارونه ترسره کوي وعده ورکړې چې دوی ته به په ځمکه کې جانشین (خلیفه) ورکوي لکه څنګه یې له دوی څخه مخکې مومنانو ته ورکړی و.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**
**لیکوال: اسلام ابوخلیل**

**۱۴۴۲هـق د ربیع الاول ۵مه**

**۲۰۲۰م، د اکتوبر ۲۲مه**